**د لوړو زده کړو وزارت**

**وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه**

**د علمي او محصلانو چارو معاونیت**

**د شرعیاتو پوهنځی**

## د اسلامي تعلیماتو څانګې لرلید، رسالت او موخې

### لرلید

د اسلامي تعلیماتو څانګه د خدمت په موخه عدلي، تعلیمي ادارو او تأسیساتو لپاره متخصص او مسلکي کادرونه روزي، ترڅو په واقعي توګه دین، هېواد او هېوادوالو ته دخدمت مصدر او د شرعي علومو د تخصص په برخه کې په نړیوالو معیارونو برابر علمي مرکز وګرځي.

### رسالت

د اسلامي تعلیماتو څانګه د هېواد په کچه یوه منل شوې  څانګه ده او د خپلې ټولنې د پرمختګ لپاره علمي څېړنو ته لار هواروي، د اسلامي تعلیماتو څانګه دې ته ژمنه ده چې د اړتیا سره سم داسې  کادرونه وروزي ترڅو ټولنې ته ښه خدمات وړاندې کړي.

### موخې

۱. د قرآن کریم، نبوي احادیثو او اړونده علومو او اصولو مسلکي زده کړه او د اساسي مصادرو پېژندنه.

۲ـ د توحید د صحېحې عقیدې پیژندنه او خپراوی.

۳ـ د نبوي صحیح سیرت زده کړه او په ژوند کې یې عملي کول.

۴ـ په نړۍ کې د مختلفو ادیانو پېژندنه او د انحرافاتو بیان.

۵ـ د اسلام د مقدس دین د مصادرو په وړاندې د نورو ډلو د دریځ بیان او د هغو د شبهاتو له منځه وړل.

٦ـ د اسلامي اوشرعي اصولو په رڼا کې د خپلو دیني مقدساتو څخه دفاع کول.

پورته د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي تعلیماتو څانګې لرلید او رسالت د شرعیاتو پوهنځي د علمي شورا په ۵ ګڼه او ۱۴۰۲/٦/۱ نیټه غونډه کې تائید شوي.
د شرعیاتو پوهنځی د اسلامي تعلیماتو څانګې لرلید او رسالت د وردګ لوړو زده کړو مؤسسې په ۷ ګڼه او ۱۴۰۲/۸/۱۰ نیټه غونډه کې تائید دي.